د پیغمبر ﷺ

د لمانځه طریقه

ليکنه

سماحة الشيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز

دچاپولو او خپرولو اداره

داسلامي چارو او اوقافو او دعوت او لارښوونې وزارت

سعودي عربستان

١٤٢٥هـ

ح وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، ١٤٢٥هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

ابن باز، عبدالعزيز بن عبدالله

كيفية صلاة النبي ﷺ. / عبدالعزيز بن عبدالله بن باز.- الرياض، ١٤٢٥هـ

٣٢ ص؛ ١٢ × ١٧ سم.

ردمك: ٣-٤٧٧-٢٩-٩٩٦٠

(النص باللغة البشتو)

١- الصلاة أ- العنوان

ديوي ٢٥٢,٢ ١٤٢٥/٥٤٤٧

رقم الإيداع: ١٤٢٥/٥٤٤٧

ردمك: ٣-٤٧٧-٢٩-٩٩٦٠

الطبعة الأولى

١٤٢٥هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على عبده ورسوله نبيّنا محمد، وآله وصحبه، أما بعد:

د پیغمبر ﷺ د لمانځه د طریقې او کیفیت په بیان کښې، دا یو څو مختصري خبري هر مسلمان سړي او ښځي ته وړاندي (پیش) کوم، تر څو چه هر څوک یي لولي، کوشش وکړي، په هغي کښي د پیغمبر ﷺ متابعت او پیروي وکړي، لکه څنګه چه هغوي په یو حدیث کښي چه بخاري روایت کړي دي فرمایي: «صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُوْنِي أُصَلِّيْ»[1]، ترجمه: زه مو چه په کومه طریقه لمونځ کولو لیدلی یم، په هماغه طریقه لمونځ وکړئ.

او دا دی لوستونکي ته د هغې بیان:

---

(۱) صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب الأذان للمسافر، حديث ٦٣١.

۱- اودس به په کامله توګه وکړي، او هغه دا چه داسي اودس وکړي لکه څنګه چه الله تعالی ورته امر کړی دي، ترڅو د هغه په دي وینا عمل وکړي، چه فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ﴾[1]، ترجمه: اي مومنانو، کله چه تاسو د لمانځه اراده وکړئ، نو خپل مخونه ومينځئ، او تر څنګلو پوري لاسونه ومينځئ، او پر سرونو مسح وکړئ، او تر ښنګرو (ګیتـــیو) پوري پښي ومينځئ.

او د پیغمبر ﷺ په دې وینا عمل وکړي چه

(۱) د المائدة سورت: ٦.

فرمايي: «لاَ تُقْبَلُ صَلاَةٌ بِغيرِ طُهُور»[١].

يعني: له پاکي (اوداسه) پرته لمونځ نه قبليږي.

٢- لمونځ کوونکي (چه هر چيري وي)، په خپل ټول ځان (بدن) سره به د قبلي (کعبي) لوري ته مخ کوي، او په زړه سره به د هغه لمانځه اراده او نيت کوي، چه ادا کول يي غواړي، که فرض وي او که نفل، او په ژبه به نيت نه وايي، ځکه دا کار ناروا او بدعت دي، او پيغمبر ﷺ او د هغه اصحابو (ملګرو) نه دي کړی، او که چيري لمونځ کوونکي امام وو، يا يي تنها (يوازي) لمونځ کاوه، نو مخي ته يي بايد سُتره[٢]،

---

(١) صحيح مسلم، کتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، حديث ٢٢٤

(٢) سُــــتره : هر هغه شي ته ويل کيږي، چه دلمونځ کوونکي تر مخ تيريدو مخه نيسي، لکه ديوال، ستنه (پايه)، الماري، يا بل داسي يو شي چه لمونځ کوونکي يي خپلي مخي ته کښيږدي، او نږدي وروډريږي، تر څو د لمانځه تر مخ يې =

یعني دا سي یو شي وي چه لمونځ ورته وکړي. او په لمانځه کښي د قبلې لوري ته مخ کول شرط دي، له یو ځو ځرګندو مسئلو (حالاتو) پرته، چه علماوو د هغې وضاحت په خپلو کتابونو کي کړي دی.

۳- د لمانځه د پیل (شروع) تکبیر (الله اکبر) به وایي، او د سجدي ځاي ته به ګوري.

۴- د تکبیر (الله اکبر ویلو) په وخت به لاسونه د اوږو یا غوږونو تر برابر پوري پورته کوي.

۵- دواړه لاسونه به پر سینه کښېږدي، او ښي لاس به یي د کیڼ (چپ) لاس د ځپړي (ورغوي) او مړوند (لیچي) او ځنګلي د پاسه وي، ځکه له پیغمبر ﷺ ځخه همدا ډول ثابت شوي دي.

ځوک تیر نه شي (ژباړونکي).

٦- سنت ده چه د استفتاح (لمانځه د پیل) دعا ولولي، او هغه دا ده:

«اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنْ الدَّنَسِ اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ»(١).

او که وغواړي د هغي په ځاي دي دا دعا ووايي:

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ»(٢).

---

(١) ترجمه: اي الله! له ما ځخه زما ګناهونه دومره لیري کړي، لکه شرق او غرب دي چه له یو بل ځخه لیري کړي دي. اي الله، ما له ګناهونو ځخه داسي پاک کړي، لکه سپینه جامه چه له خیري ځخه پاکه شي، اي الله ماله ګناهونو ځخه په اوبو او واوره او ږلي ومینځه (پاک کړه).

(٢) ترجمه: اي الله، ته پاک يې، ستا ثنا وايو، او ستا نوم مبارک او با برکته =

او کولای شي د دي دوارو دعاوو پرته بله د استفتاح (لمانځه د پيل) داسي کومه دعا ووايي، چه له پيغمبر ﷺ څخه ثابته شوې وي . او بهتره دا ده چه کله يوه، او کله بله دعا ووايي، ځکه په دي کښي پوره متابعت او پيروي ده .

او له هغې وروسته به «أعوذ بالله من الشيطان الرجيم»[1]، او «بسم الله الرحمن الرحيم»[2] وايي، او وروسي به سورت فاتحه ﴿الْحَمْدُ للّه رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ لولي، ځکه پيغمبر ﷺ، فرمايي: «لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ

= دي، او ستا شان ډير لور او اوچت دي، او ستا نه پرته د عبادت بل مستحق نشته.

(۱) ترجمه: زه له شيطان څخه الله ته پناه وروړم.

(۲) ترجمه: د ډير بخښونکي او مهربان الله په نامه سره (شروع کوم).

بفَاتحَة الكتَابْ»[١] يعني څوک چه په لمانځه کښې د ﴿الْحَمْدُ للّه﴾ سورت ونه وايي، د هغه لمونځ نه صحيح کيږي. او له ﴿الْحَمْدُ للّه﴾ وروسته به په جهري[٢] لمانځه کښې په لوړ آواز، او په سري[٣] لمانځه کښې په ټيټ (سوکه) آواز (چه څوک يي نه آوري)، آمين وايي. او بيا به کوم سورت يا آياتونه چه ورته آسانه وي ولولي، او بهتره دا ده چه له فاتحې وروسته د ماسپښين،

---

(١) صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب وجوب القراءة للإمام والمأموم، حديث ٧٥٦، صحيح مسلم كتاب الصلاة، باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة، حديث٣٩٤ .

(٢) جهـــري لمونځ هر هغه لمانځه ته ويل کيږي، چه په جګ (لوړ) آواز قراءت په کښې ويل کيږي، لکه د سهار، ماښام، ماسختن، او جمعې او اخترونو لمونځ (ژباړونکی).

(٣) او سري لمونځ هغه دي، چه په لوړ آواز قراءت نه په کښې ويل کيږي، لکه د ماسپښين او مازديګر لمونځ (ژباړونکی).

مازديګر، او ماسختن په لمونځونو کښې له «اوساط المفصّل» سورتونو څخه، او د سهار په لمانځه کښې له «طوال المفصّل»، او د ماښام په لمانځه کښې کله له «طوال المفصّل» او کله له «قصار المفصّل»(۱) سورتونو څخه څه شي ولولي، تر څو په هغه احاديثو يې عمل کړي وي، چه په دې باره کښې راغلي دي.

۷- رکوع به کوي، په داسي حال کښې چه (الله اکبر) به وايي، او لاسونه به دا اوږو يا غوږونو تر برابر پوري پورته کوي، او سر به درکوع په حال کښې له شا سره برابر ساتي (يعني: ښکته يا پورته به يې نه نيسي) او

---

(۱) د قرآن کريم له سورت الحجرات څخه تر سورت البروج پوري سورتونو ته (طوال المفصل)، او له هغي څخه تر سورت البينه پوري سورتونو ته (اوساط المفصل)، او له هغې څخه تر پايه پوري نورو سورتونه ته (قصار المفصل) ويل کيږي (ژباړونکي).

دواړه لاسونه به په زنګنونو داسي ایږدي، چه ګوتي به یي پراخه وي. او په رکوع کښي به له اطمئنان او آرامي څخه کار اخلي، یعني بیړه به نه کوي، او «سُبْحانَ رَبِّيَ العَظِيم»[١] به پکښي وایي، او بهتره دا ده چه دري یا ډیر ځله یي تکرار کړي، او مستحب ده چه دا هم ورسره ووایي: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»[٢]

٨- له رکوع څخه به سر راپورته کړي، په داسي حال کښي چه لاسونه به د اوږو یا غوږونو تر برابر پوري پورته کوي، او که امام وو، یا یي تنها لمونځ کاوه،

---

(١) ترجمه: زما لوي پروردګار پاک دي.

(٢) ترجمه: پاک یي ته، اي زما الله، او ستا حمد او ثنا وایم، اي زما الله ماته بخښنه او مغفرت وکړه.

نو داسي به وايي «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ»[1]، او د ولاړي په حالت کښي به وايي: «رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ ما بَيْنَهُما، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»[2] او كه چيري مقتدي وو، يعني په امام پسي يي لمونځ كاوه، نو بيا به له ركوع ځخه د راپورته كيدو په وخت «ربنا ولك الحمد» تر پايه وايي.

او كه چيري دوي (امام، مقتدي، او تنها لمونځ كوونكي) له تير ذكر ځخه وروسته دا دعا هم ووايي،

---

(۱) ترجمه: الله د هغه چا آواز اوري، چه دده ثنا او پاكي بيان كړي.

(۲) ترجمه: اي زمونږ پروردګاره! ټول حمد (ثنا او ستاينه) تا لره دي، ډير زيات، ښه، او با بركته، د آسمانونو او ځمكي د ډكوالي په اندازه، او د دواړو تر مينځ چه ځه دي، د هغې په اندازه، او د هغې ځخه پرته چه ځه وغواړي، د هغې په اندازه.

نو ښه به وي: «أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ»[۱] ځکه چه له پیغمبر ﷺ څخه ثابته ده.

او مستحب دي چه لمونځ کوونکي (که امام وي، او که مقتدي، یا تنها) په دي حالت کښې هم لاسونه په سینه کښېږدي، لکه څنګه چه یې له رکوع څخه مخکې د قیام (ولاړې) په حالت کښې ایښودل، ځکه چه له پیغمبر ﷺ څخه د وائل بن حجر او سهل بن سعد -رضي الله عنهما- په حدیث کښې د دي خبرې دلیل او

(۱) تـــرجمه: د ثنا، ستاینې او لویې څښتن دي، دا وینا ډېره حق ده چه بنده یې کوي (او مونږ ټول ستا بندګان یو) چه اې زما الله څوک منع کوونکي نشته د هغـــه څه چه ته یې ورکوې، او نه ورکوونکي شته د هغه څه چه ته یې نه ورکوې، او ستا په وړاندې مالدار ته د هغه مال ګټه نه رسوي.

ثبوت شته.

۹- سجده به کوي، په داسي حال کښي چه (الله اکبر) به وايي، او که کولای شي نو زنګنونه به دلاسونو تر مخ ځمکي ته یوسي، او که دا ورته سخته وه، نو بیا دي لمړي لاسونه کښیږدي، او بیا زنګنونه، او د پښو او لاسونو د ګوتو مخونه به یي قبلې ته وي، او د لاسونو ګوتې به له یو بل سره نږدي او پرانستلي ساتي، او په لاندې اوو اندامونو به سجده کوي: تندي له پوزي سره، دواړه لاسونه، دواړه زنګنونه، او د دواړو پښو د ګوتو لاندیني برخه.

او په سجده کښي به «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى»(۱) وايي، او سنت ده چه دري ځله، یا زیات یي تکرار

---

(۱) ترجمه: پاک دي زما ډیر عالي شان پروردګار.

کړي، او مستحب ده چه دا هم ورسره ووایي: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» (۱) او ډیره دعا به کوي، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: «فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ، وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ»(۲) ، یعني په رکوع کښي دپروردګار لويي بيان کړئ، او په سجده کښي د دعا کولو کوښښ او خواري وکړئ، ځکه زيات اميد شته چه دعا مو قبوله شي. او له خپل پروردګار څخه به د دنيا او آخرت د خير غوښتنه کوئ، که فرض لمونځ وي او که نفل.

---

(۱) ترجمه يې په صفحه کښي تېره شوه.

(۲) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب النهي عن قراءة القرآن في الركوع والسجود، حديث۴۷۹.

او دواړه متې به له بغلونو (تخرګونو) څخه، او ګېډه له ورنو څخه، او ورنونه له پنډيو څخه بېرته (لېري) ساتي، او همدا راز څنګلي به له ځمکې څخه پورته نيسي، ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: «اعتدلوا في السجود، ولا يبسط ۀحدكم ذراعيه انباسط الكلب»[1]، يعني: ځان په سجده کښې ښه برابروئ، او څنګلي د سپي په څېر (په شان) مه غوړوئ.

١٠- له سجدې څخه به سر راپورته کړي، په داسي حال کښي چه (الله اکبر) به وايي، او چپه پښه (قدم) به خملوي (پريباسي، هواروي) او ورباندي به کښيني، او ښی پښه (قدم) به ودروي، او لاسونه به په

---

(١) صـــحيح البخاري، كتاب الأذان، باب لا يفترش ذراعيه في السجود، حديث ٨٨٢.

ورنونو او زنگنونو کښېږدي، او دا دعا به وايي: «رب اغفرلي، وارحمني، واهدني، وارزقني، وعافني، واجبرني»[۱]، او په دې کښې به له آرامي او اطمئنان څخه کار اخلي، يعني بيړه (تيزي) به نکوي.

۱۱- تکبير (الله اکبر) به ووايي، او دوهمې سجدې ته به ولاړ شي، او د لمړۍ سجدې په څېر به يې وکړي.

۱۲- بيا به تکبير (الله اکبر) ووايي، او سر به له سجدې څخه راپورته کړي، او د دواړو سجدو تر منځ ناستې په څېر به لږ (مختصر) کښيني، او دې ناستې ته

---

(۱) ترجمه: اي پروردگاره! ماته بخښنه وکړه، او راباندې مهربانه شه، او هدايت راته وکړه، او روزي راکړه، او ماته عافيت راکړه، او نقصان مې پوره کړه.

(جلسة الاستراحة) ویل کیږي، او دا مستحب کار دی، او پریښودل یې ګناه نه لري، او کوم ذکر او دعا هم په کښې نشته.

بیا به دوهم رکعت ته پاځیږي، په داسي حال کښې چه لاسونه به یې په زنګنونو تکیه کړي، او چه پاځید، نو فاتحه (الحمد لله) او ورسره به کوم سورت یا آیاتونه چه ورته آسانه وي ولولي، او بیا به دا رکعت هم د لمړي رکعت په څیر وکړي.

۱۳- که چیري لمونځ دوه رکعتي وو لکه د سهار، جمعي، او اخترونو لمونځ، نو له دوهمي سجدي وروسته به داسي کښیني، چه ښي پښه (قدم) به ودروي، او چپه پښه (قدم) به څملوي (پریباسي، هواره کړي)، او ښي لاس به په ښي ورانه کښیږدي، او د

اشارې له ګوتې پرته به نورې ګوتې راټولې (بندې) کړې، او په دې يوه ګوته به توحيد (دالله يو والي) ته اشاره کوي. او که يې داسې وکړل، چه د ښي لاس کوچنۍ ګوته، او ورسره دوهمه ګوته بندې (راټولې) کړې، او د مينځ ګوته له غټې (بټې) ګوتې سره حلقه (دايره) کړې، او د شهادت په توګه اشاره وکړي، نو هم ښه کار دی، ځکه د اشارې دا دواړه طريقې له پيغمبر ﷺ څخه ثابتې شوې دي، او بهتره دا ده، چه کله په دې ډول، او کله په هغې ډول اشاره وکړي، او کيڼ لاس به په کيڼ ورون او زنګون باندې کښېښودی. او له هغې وروسته به دا تشهد ووايي: «التَّحيَّاتُ للّه، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّهِ الصَّالِحِينَ،

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاّ اللّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»[۱] او بیا به دا درود وایي: «اللّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[۲].

---

(۱) ترجمه: ټول سلامونه، یا ټول حمد او ثنا، او ټول لمونځونه او دعاګاني او ټول ښه اعمال او اقوال، خاص الله لره دي. سلام او د الله رحمت او برکتونه دي وي پرتا اي پیغمبره، سلام دي وي پر مونږ، او د الله په نیکو بندګانو. زه دا ګواهي ورکوم چه د الله نه پرته، د عبادت بل مستحق نشته، او دا ګواهي ورکوم چه محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دي.

(۲) ترجمه: اې الله رحمت نازل کړه په محمد ﷺ، او د هغه په آل باندي، لکه څنګه چه تا رحمت نازل کړي وو په ابراهیم ؑ او د هغه په آل باندي، بې شکه ته ستایل شوی، او د لویي او عظمت څښتن یې. او برکت نازل کړه په محمد ﷺ او د هغه په آل باندي، لکه څنګه چه تا برکت نازل کړي =

او بیا به ددې دعا په ویلو سره له څلورو شیانو څخه پناه وغواړي:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، ومِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ»(۱).

بیا دې د دنیا او آخرت له خیرونو څخه چه څه غواړي، د هغې دعا وکړي، او که د مور او پلار او نورو مسلمانانو لپاره یې دعا وکړه، نو هم پروا نه لري، که فرض لمونځ وي، او که نفل او سنت، څکه چه د ابن مسعود ﷺ په حدیث کښې، چه کله پیغمبر ﷺ تشهد

= وو په ابراهیم العلیه او د هغه په آل باندې.

(۱) تـــرجمه: اې الله! زه له تانـــه د دوزخ او قبر له عذاب څخه، او د ژوند او مرگ له فتنې څخه، او د دجال له فتنې څخه، پناه غواړم.

ورته وښود، دا وینا عامه ده چه «ثُمَّ يَتَخَيَّرُ مِنْ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو»[1]، او په بل روایت کښې فرمایي: «ثُمَّ لْيَتَخَيَّرْ مِنْ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ»[2] یعنې: بیایي چه کومه دعا خوښه وي، هغه دي وایي. او په دې دواړو روایتونو کښې د پیغمبر ﷺ وینا عامه ده، ټولو هغه دعا ګانو ته شاملیږي، چه بنده ته په دنیا او آخرت کښې ګټه او فایده رسوي.

بیا به په پای کښې ښی او کیڼ لوري ته سلام وګرځوي، او وبه وایي: «السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته»[3].

---

(۱) صحیح البخاري، کتاب الأذان، باب ما یتخیر من الدعاء بعد التشهد، حدیث۸۳۵.

(۲) صحیح مسلم، کتاب الصلاة، باب التشهد في الصلاة، حدیث۴۰۲.

(۳) ترجمه: سلام او د الله رحمت دي وي پر تاسو باندي.

۱۴- که چیري لمونځ دري رکعتي وو، لکه د ماښام لمونځ، یا څلور رکعتي وو، لکه د ماسپښین، مازدیګر، او ماسختنن لمونځونه، نو (مخکي ذکر شوي تشهد، او درود، به ووايي، بیا به (دریم رکعت ته) پاځیږي (اوچتیږي)، او د پاڅیدو په وخت به لاسونه په زنګونو تکیه کړي، او همدا راز به دواړه لاسونه د اوږو یا غوږونو تر برابر پوري پورته کړي، او (الله اکبر) به ووايي، او لاسونه به پر سینه کښیږدي، لکه څنګه چه مخکي ذکر شو، او یوازي فاتحه (الحمد لله) به ووايي، او که يي کله کله د ماسپښین د لمانځه په دریم او څلورم رکعت کښي له (الحمد لله) وروسته نور سورت څه شي ولوستل، نو هم پروا نه لري، ځکه چه د ابو سعید رضي الله عنه په حدیث کښي، چه له پیغمبر ﷺ څخه يي روایت کړي

دي، د دي خبري دليل شته.

بيا به د ماښام له دريم رکعت، او د ماسپښين او مازديګر او ماسختن له څلورم رکعت وروسته، هماغسي تشهد وايي، لکه د دوه رکعتي لمانځه په بيان کښي مو چه ذکر کړ، او بيا به ښي او کيڼ لوري ته سلام وګرځوي.

له سلام ګرځولو وروسته به دري ځله «أستغفر الله»[1] او بيا دا ذکر ووايي: «اللّهُمَّ أنتَ السَّلامُ، ومِنْكَ السّلامُ، تَبَارَكْتَ يا ذَاالجَلالِ وَالإِكْرَام»[2] که چيري امام وو، نو دا ذکر به د مقتديانو لوري ته د مخ راګرځولو

(۱) بخښنه غواړم له الله څخه.

(۲) ترجمه: اي زما الله، ته سلام يي، او سلامتيا ستا له لوري ده، د برکت خاوند يي، اې د لويي (عظمت) او اکرام څښتنه.

نه مخکي ووايي. بيا به دا ذکر ووايي: «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَد، لاَ حَوْلَ ولاَ قُوّةَ إلاّ باللّٰه لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ»(۱).

---

(۱) ترجمه: نشته مستحق د عبادت او بندګي مګر يو الله، يو دی شريک نه لري، د پادشاهي خاوند دی، ټول حمد او ثنا او صفت هغه لره دي، او هغه پر هر څه قدرت لري، اې زما الله! نشته څوک منع کوونکي د هغه څه چه ته يې ورکوي، او نه ورکوونکي د هغه څه چه ته يې نه ورکوي، او مالداره کس ته ستا په وړاندي د هغه مال ګټه نه رسوي، له ګناهونو څخه څوک نه شي راګرځيدلاي، او نه هم څوک داعت توان او قدرت لري، مګر دالله په توفيق سره. نشته مستحق د عبادت مګر يو الله، او مونږ د هغه پرته د بل چا=

او دري ديرش ځله به «سبحان الله»، او دري ديرش ځله «الحمد لله»، او دري ديرش ځله به «الله اكبر» ووايي او دا نه نوي ځله شو او د سلم ځل د پوره کولو لپاره به يو ځل «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِير»(١) ووايي.

او همدا راز به له هر لمانځه څخه وروسته، آيت کرسي(٢) او ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ او﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ

=

عبادت نه کوو، نعمت او احسان خاص د ده له جانبه دي، او غوره ستاينه خاص ده لره ده، نشته مستحق د عبادت مګر يو الله، بنده ګي مو خاص هغه لره ده، که څه هم کفار پري خوښ نه وي.

(١) نشته د عبادت مستحق مګر يو الله، هغه يو دی، شريک نه لري، د پادشاهي خاوند، او د حمد او ثنا او صفت مستحق دی، او په هر څه قدرت لري.

(٢) آيت کرسي، د سورت بقره (٢٥٥) آيت ته ويل کيږي.

الْفَلَقِ﴾ او ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ وايي، او د دې دريو سورتونو د سهار او ماښام له لمونځونو وروسته درې درې ځله ويل مستحب دي، ځکه چه له پيغمبر ﷺ څخه په دې هکله احاديث روايت شوي دي.

او دا ټول اذکار سنت دي، او ويل يې فرض نه دي.

او د هر مسلمان سړي او ښځې لپاره په کار دي، چه د ماسپښين د لمانځه تر مخ څلور رکعته (سنت)، او وروسته يې دوه رکعته، او د ماښام له لمانځه وروسته دوه رکعته، او همدا راز د ماسختن له لمانځه وروسته دوه رکعته، او د سهار له لمانځه نه مخکې دوه رکعته سنت وکړي، او دا ټول دوولس رکعته دي، او دې ته «رواتب» ويل کيږي، او پيغمبر ﷺ به د اقامت په حالت

کښني (یعني چه په سفر کښني به نه وو) دا سنت په دوامداره توګه ادا کول، او په سفر کښني به یي پریښودل، لیکن وتر او د سهار سنت به یي په سفر او د اقامت په حالت کښني (چه مسافر به نه وو) همیشه کول.

او بهتره دا ده چه دا مؤکد سنت او وتر په کور کښني وکړل شي، او که یې په مسجد کښني وکړي، نو هم پروا نه لري، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایي: «أَفْضَلُ صَلاةِ المَرْءِ فِي بَيتِهِ إِلاّ المَكْتُوبَة»[1]، یعني له فرض لمانځه پرته، د بنده غوره (بهتر) لمونځ هغه دي چه په کور کښني یي

(۱) صحیح البخاري، کتاب الاعتصام، باب ما یکره من کثرة السؤال، حدیث ۷۲۹۰ صحیح مسلم، کتاب صلاة المسافرین، باب استحباب صلاة النافلة في بیته، حدیث ۷۸۱.

وکړي.

او په داوامداره توګه د دي سنتو ادا کول جنت ته د تلو سبب ګرځي، پیغمبر ﷺ په یو حدیث کښي چه مسلم[۱] روایت کړي دي، فرمايي: «مَنْ صَلَّى اثْنَتَي عَشْرَةَ رَكْعَةً فِي يَومِهِ وَلَيلَتِهِ تَطَوّعاً، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الجَنَّة» یعني څوک چه په شپه او ورځ کښي دوولس رکعته نفل (له فرضو نه پرته نور لمونځ) وکړي، نو الله تعالی به په جنت کښي کور ورته جوړ کړي.

او که يي د مازديګر له لمانځه نه مخکي څلور رکعته، او د ماښام د لمانځه تر مخ، او همدا راز د ماسختن د لمانځه تر مخ، دوه رکعته نفل وکړل، نو ښه

(۱) صحیح مسلم، کتاب صلاة المسافرین، باب فضل السنن الراتبة، حدیث ۷۲۸.

به وي، ځکه چه له پیغمبر ﷺ څخه په دې اړوند صحيح ثبوت او دليل شته.

والله ولي التوفيق، وصلى الله وسلم على نبينا محمد بن عبد الله، وعلى آله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

طبعت بمطابع دار طيبة - الرياض السويدي
شارع عبدالملك بن هشام - ت ٤٢٨٣٨٤٠

كيفية

صلاة النبي صلى الله عليه وسلم

تأليف سماحة الشيخ
عبدالعزيز بن عبدالله بن باز
« رحمه الله تعالى »

(بلغة البشتو)

وكالة المطبوعات والبحث العلمي
وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد
المملكة العربية السعودية
١٤٢٥هـ